آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۴/۲۰

# «خلیفه د زمانې په زړه کافر دی»

## خوشال پوهنه

## اشعار

## ۳

په شعر کې د خوشال تنده او انتقادي ژبه، د ده د شعر یوه ځلانده ځانګړنه ده. څه یې چې په زړه او ذهن کې وي، هغه یې لومړی په ژبه او بیا قلم ته راځي او دی یې په یوه ځانګړي مهارت او جرأت سره د کاغذ پر مخ پیاده کوي. سره له دې چې دی لا په هغه وخت کې په دې پوهیده چې د ده قدر په چا مالوم نه دی، خو په دې هم ښه باوري و چې پس له مرګه به یې ډیر خلک یادوي او په قدر به یې پوهیږي:

د خوشال قدر که اوس په هیڅ چا نه شته
پس لـه مـرګـه بـه یـې یاد کـا ډیر عــالـم

د خوشال مورد نظر وخت اوس را رسیدلی دی چې یاد شي، بیا، بیا یې نظریات را واخستل شي او د نویو نسلونو د سرمشق له پاره لوستونکو ته په مخ کې کیښودل شي. دا یې د تندو نظریاتو او سرکشیو یوه بیلګه ده چې دی د زمانې بادشاه ته هم غاړه نه ږدي، ځکه چې هغه غلط دی او پر ناسمه لار روان دی:

**د فساد فکر مې نه شته خدای حاضر دی**
**خـپـل سـاعت بـه تـیروم عمر آخر دی**

**اطـاعت د اولــوالامـــر ځـکـه نـه کـړم**
**خـلـیفـه د زمـانـې په زړه کـــافـــر دی**

**پـلار یـې و واژه پـه بـند ورونـه پـه توره**
**پــه آزار د مـــومـــنـــانـو بـــهـــادر دی**

**د ابلیس غونـدې مکـرونـه یـې په زړه کې**
**پـه فـریب کـې تـر ابلیسه لا ماهر دی**

**پــه باطن یې ودانـې تـه نظر نـه شتـه**
**پـه ظـاهـر کـې ودانـیـا تــه نـاظر دی**

**د چا زړه بـه ځنې روغ پـه دنـیا نــه وي**
**د خوشال ختک چې چاوډ ځینې خاطر دی**

(د خوشال کلیات، د زاهد مشواني اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۲۲۸ ام مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ